مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د لیک لیکونکئ: ویلهیلم فیدرز
ژباړن : رناګل اریوبزی
۲۰۲۱/۰۳/۰۷

# د نجات ښونځي د یو ښونکي لیک

## کابل، افغانستان، د ۱۹۳۴ د فبرورۍ ۲۴ مه

**د ژباړن یوڅوخبرې:**

**په المان کې زما دتحصیل دوخت یو اشنا، فولکر باوش، دحمد کرزي حکومت په لومړي وخت کې دالمان دولت له خوا افغانستان ته واستول شواو هلته ۵ یا ۶ کاله پاتې شو. دنده یې په شمالي ولایتونوکې دښوونځیو جوړولودالماني پروژې مشري وه. کله چې المان ته بیرته راستون شو دځنې همکارانو سره یې په ګډه د « المان اوافغانستان » تر سرلیک لاندې یو کتاب ولیکه اوماته یې دکتنې له پاره را ولیږه. دکتاب سره دمل په توګه په کابل کې د « اماني ښوونځي » دیوه الماني ښوونکي، ویلهیلم فیدرز، یولیک چې په المان کې یې دخپل ښوونځي مدیر اوهمکارانو ته لیکلی، هم خپور شویدی. لیک د۱۹۳۴ کال دفیبرورې په ۲۴ نیټه لیکل شودی، خوفولکر باوش دویلهیلم فیدرز دزوی، ډاکتر برودر زاکس فیدرز، څخه تر لاسه کړی دی او دکتاب سره یې دمل په توګه خپور کړی دی. زما په اند دالیک دافغانستا تاریخ د دې له پیښو اولانجوډک پروکې څیړونکو ته دمالوماتویوه لنډه سرچینه کیدلی شي. نو ځکه مې په پښتو دهغه د ژباړنې نیت وکړ. لاندې د لیک پښتو ژباړه وړاندې کیږي:**

ښاغلی مدیر!
ستاسې دجولای د۳۰ نیټې لیک مې دلته تر لاسه کړ، دزړه له کومې مننه. تاسو او زموږ نورومسلکې ملګرو به په دې موده کې درسنیو له لارې دغه یا هغه مالومات تر لاسه کړې وي. دلته ( په افغانستان کې: ژباړن ) له اوړې راپه دې خوا داسې څه نه دي پیښ شوي چې څوک ورته خوښ شي. له پخوا راهیسې مې غوښتل چې خپل غړ ستاسې غوږو ته ورسوم، خو دلته د پستې تګ اوراتګ تر کلک سانسور لان دې دی. هغه څه چې افغانان یې لا نه لولي، د هغه سره هم ډیرځله انګریزان زیاته مینه ښیي. اوس په دې شیبه کې ماته له غیر رسمي لارې المان ته دلیک د درلیږلو امکان پیدا شوی دی. له دې امله دټولو مسلکې همکارانو څخه بخښنه غواړم چې هر یوه ته ګوښی لیک نه شم لیکلی. دلته په یو څه چټکۍ پرله پسې سیاسي پیښې رامنځ ته شوې. رښتیا داده چې په دې پیښو کې زموږ الماني ( اماني) ښوونځي خوابښینونکی رول لوبولی دی. په اوړي کې زموږ یوه پخواني زوده کوونکي، چې په برلین کې په لوړو زده کړو لګیا و، هلته دافغانستان سفیر، چې دلومړي وزیرسکه ورور اود پخواني پاچا ( نادرشا ) د میرې ورور و، په ډزو وواژه. دقاتل دراستنولو په هکله خبرې اترې لا پای ته نه دي رسیدلي. باخبره سرچینې وایي چې دوژلو لامل غچ اخیستنه وه. دلویې رخصتۍ نه وروسته دښوونځي دپیل په لومړۍ ورځ زموږ یوه افغاني همکارچې په المان کې یې زده کړې کړې وې او دیوې سویډنۍ سره یې واده کړی و، دلته دانګلیستان په سفارت کې دوه انګریزان و وژل. ده غوښتل چې دانګلیستان سفیر و وژني اوله دې لارې افغان حکومت ته دانګریزانو سره ستونځې پیدا کړي. په دې کې هیڅ شک نشته چې نن سبا دې کړنو دنادر خان حاکمه کورنۍ په نښه کړې ده. عظیم ( دانګریزانو وژونکی: ژباړن ) په دارشواو ځنې نور ښوونکي په دار وځوړول شول. د دې له پاره چې دپخواني پاچا نوم له سره دخلکو له یاد نه وایستل شي زموږ اماني ثانوي ښوونځی ( دامان اله ثانوي ښوونځی) په مکتب نجات ونومول شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په دې توګه دنادر خان دهغوخدمتونو درناوی په ځای شوچې افغانستان يې دانقلابونو او غلو پاچا له لاسه ازاد کړ. د دې له پاره چې دکورنيو لانجونه دځوان نسل پام بلې خوا ته واړوي او هغه دځان پلويان کړي، تر ماسپښين وروسته وخت کې يې په سپورت مشغول کړل. دنومبر مياشتې په پيل کې د دريو ښوونځيو تر منځ لويې سپورتي سيالۍ ترسره شوې او دنومبر په پنځمه نېټه نادرشا غوښتل چې ټولو، په لوبو کې وتلو زلميانوته، جايزې ورکړي جايزې دارګ په بڼ کې ورکول کيدې. ټول زده کوونکې ـ دطب او ديني علومو زده کوونکي هم ـ دپاچا دهر کلي دپاره په منظم کتار ولاړ وو. شاه دخپلو ساتونکو سره را ووت، ترڅو دکتار تر مخ تير شي او دهغه کتنه ترسره کړي. افسرانو په کمربند کې دتفنګچو دبکس تنۍ پرانيستې پر يښې وې. پاچا دټول کتار دوروستۍ برخې نه دتيريدو په حال کې و چې دالماني ښوونځي ديوې ډلې له لورې يو ډز وشو. ما فکر وکړ چې دا به دمراسيمو دپيل ډزوي، خوور پسې دوې نورې ډزې هم وشوې او پاچا وړاندې تردې چې ساتونکې يې له وسلې کار واخلي، بيځانه په مځکه پريوت. قاتل، عبدالخالق، دثانوي دورې د دوهم ټولګي زده کوونکي، د دوهم کتار څخه ډزې وکړې.ځان يې دهعه چا تر شا پټ کړی و چې د ده تر مخه ولاړ و. دا حالت موږ ښوونکو له پاره ځکه ډيرخواښينوونکی وچې زموږ دالماني ښونځي دزده کوونکوله خوا دا دريم سياسي قتل و. کيدای شي چې دا به دښووني اوروزني په تاريخ کې يوازنی بيلګه پاتي شي چې يوڅوک دې دپا چا دقاتل دټولګي ښوونکی وي. ټول په دې پوهيږي چې دا دهغه نوکر دزوی غچ اخيستونکی و، چې دپلار بادار يې په ۱۹۳۲ کال کې وژل شوی و.
طبعي ده چې تر دې پيښې وروسته زموږ الماني ښونځي راتلونکی برخليک دوريښمو په نازک تار پورې تړلی دی. وايي چې دځيرنو په پايله کې ښکاره شوه چې په ښوونځي کې د دسيسه جوړوونکو پټومنظمو ځالو شتون درلود. دپاچا قاتل او دثانوي دورې دلومړي ټولګي يوبل زده کوونکی، چې دقا تل سره په مرسته تورن شوی و، په برچو دمرګ په جزا محکوم شول. دثانوي دورې د دوهم ټولګي دوه نور زده کوونکي په دايمې بند محکوم اويوزيات شمير نور زده کوونکي له ښوونځي وايستل شول. د دوو ياد شوو زده کوونکو تر څنګ ديارلس تنه نور افغانان هم په دار شول. دپوهنې معين د دار لاندې په وروستۍ دقيقه کې وبخښل شو. ښونځی تراوسه نه دی تړل شوی، خو دحکومت ترکلکې څارنې لاندې دی. موږ ډيرذکي زده کوونکي له لاسه ورکړل. څوک چې ترشک لاندې وو او څوک چې سياسي وو، دښوونځي پريښودوته مجبور شول. ګمان نه کوم چې ښوونځی به له دې ګوزارونو نه وروسته بيا په پښو ودريږي. که څه هم زموږ تر لاسه هيڅ پوره نه وو، خو سره له دې هم د دې کورنيو سياسي پيښو له امله المايانو ډيراعتبار له لاسه ورکړ. اوس نو ددې له پاره چې دا زلميان ترسترګو لاندې وساتل شي، ترماسپښين وروسته هم درس پيل کيږي. تردې وروسته تعليمي کال داوس په شان په جولای کې پای ته نه رسوي اوغواړي چې رسختي ژمی ته وليږدوي اودليل هم دا راوړي چې افغانستان ډير ځنګلونه نه لرې، نوځکه بايد لرګي وسپمول شي.....ما اوه زده کوونکې درلودل، يو يې بندي شو اوپاتې يې دلياقت له مخې دفلسفې اورياضې په ګروپونو وويشل شول. داکا ر دفرانسې په بيلګې تر سره شو. دا هم شونې نه راته ښکاري چې دالمان نه به دولتي کميسار دلته راشي. که څه هم دروژې په مبارکه مياشت کې لومړي وزير او دفاع وزير چای ته ميلمانه کړي وو، خوسره له دې هم دوروستيو پيښو را په دې خوا دالمانيانو په وړاندې عامه ذهنيت په سم حالت کې نه و. زه په دې شک لرم چې دوی به زموږسره، چې دا هرڅه يې په خپلو سترګوليدل، په منې کې قرار دادونه تمديد کړي.....
موږ المانيان په افغانستان کې ښې ډيرې پيسې ګټوچې ډيره برخه يې دخطر په وړاندې زموږ دبيمې په توګه راکول کيږي. دنا مسلمانواو کافرانو په توګه دمسلمانو په وړاندې زموږ دريځ له هرډول حقوقو بې برخې دی. ما غوښتل چې ددې هيواد شمال ته سفر وکړم، خو په۱۹۳۳ کال کې يې ددې سفر اجازه رانه کړه. راته ويل يې چې داسفر ډير سخت دی، خو په حقيقت کې دوی نه غواړي چې موږ اروپايان ددې هيواد دکتو په نيت راووزو. موږ دلته يوازې دموټرو دسړک داوږدوالې په اندازه سفر کولی شو. له دې امله مې دځان له پاره داوړي رسختۍ په پيل کې يو موټر را ونيو. که څه هم موټرمې دسپورټۍ موټر نوی ماډل نه دي، خوسره له دې هم له ښاره پکې راوتلی شم. غواړم چې په مسيحي اختر کې دهند سرحد ته په سفر لاړشم. يو مسلکي ملګری به موچې، د جنوبي غربي افريقا نه راغلی، زموږ سره يوځای شي او دفلم اخيستونکي په توګه به ځان مشغول کړي. په اوړي کې دبلوچستان دسرحد سره دکندهار په ښار کې وم. هغه څه چې يو موټروان ترې خوند اخلې دپنچرۍ نيول دي. دسړک په سردبوټونو هغه ميخونه پاشل شوې ووچې کاروانيانو له لاسه ورکړي وو. دکندهار ګرمي دزغملو نه وه. هلته هم چا دکندهار دشاوخوا دليدلو اجازه نه راکوله. تل يې راته ويل چې داسيمه دغلو نه په امن کې نه ده. افغانان په رښتيا ډير زيات ( زموږ ) په انديښنه کې دي. يوه ورځ مې دا وياړ په برخه شو چې والي دماښام ډوډۍ له پاره ميلمه کړم. دا اسان کار نه دی چې ديوه ګنډونکې په څير په پلتيو کښينې. دې ته دوالي هم پام شو، نو ځکه يې زما له پاره يو ميز اويوه چوکۍ راوغوښتل. دې کار ته دوالي په شاوخوا کې ټول خاک په کتو شول. کندهار دشرق دنورو ښارونو په شان بې شکله ښار دی. دلته، په خدای پيدا کړي افغانستان، کې ژوند په رښتيا بې ډوله دی. د « يو زرو يوې شپې » داستان دمعجزو اوشتمنيو څخه ډير لږ څه په نظر راځي. يوازنی شی چې په کندهار کې دليدو وړ دی، هغه دښار دبنسټ ايښودونکي احمد شاه مقبره ده. ويل کيږې چې دلته قاتلان مقدسو زيارتونو ته ازاده پنا وړلی شي او هلته يې بيا دملايانو له خوا پالنه کيږي. بل نوزه دباميان په مشهوره دره کې هم وم. دلته سړی داسلام نه دمخکې دورې دبودا لويې اوځواکمنې مجسمې، چې د ريګينو تيږوپه ديوال کې کيندل شوی دي، ليدلی شي. دلته دا بې شميره کندې ښئي چې هغه په تيرو زمانوکې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

بودايي راهبانو عبادت ځايونه وو. وايي چې په تيبت کې داسي تأسيسات زيات شته. کله چې دلته اسلام خپور شواو دپيغمبر(ص) شين بيرغ ورپيده، بودايي راهبان له دې ځايه وشړل شول. ويل کيږي چې دمجسمو دورانولو هڅه هم وشوه، ځکه په اسلام کې دانسان دمجسمې جوړول اوښودل منع دي. هلته دپخوا راهسي دفرانسې لرغون پيژندونکي په کار لګيا دي.

نور نودلته ژوند په شرق کې د معمولي ګډوډۍ سره سم تيريږي. هيڅوک نه پوهيږي چې سبا به څه پيښيږي. په تيره بيا پسرلی چې داځل دمعمول وخت نه وړاندې راورسيده، ځکه دانديښنې وړدی چې پکې دخيبر په شاوخواکې جنوبي قومونه راژوندي کيږي. خدای دې وکړي چې هرڅه ارام پاتې شي. انشاء الله. يو مسلکي ملګری چې دکور په لور روان دی، داليک له ځان سره المان ته دروړي. دی دسانسور له لارې نه تيريږي. له تاسو هيله کوم چې داليک به له ځان سره پټ وساتی او له لاسه يې ورنه کړی. نه غواړم چې زما له خوا دافغانستان په هکله څه خپاره شي. په ډيره مينه غواړم چې يوځل بيا اروپا ووينم.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ